

سپین غر
د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار)
Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)

# عمومي طب پوهنځی

## General Medicine Faculty

### د طبي لوړو زده کړو معياري اداره

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**

## د عمومي طب پوهنځي لنډه تاریخچه او پېژندنه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننگرهار) عمومي طب پوهنځـــي په (۳۰/ثور/۱۳۸۸) نېټه د لوړو زده کړو وزارت د حکم پر اساس د فعالیت جواز ترلاسه کړ، چې تر دې دمه يې د معالجوي طب په برخه کې زرگونه تنه محصلین روزلي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

همدا راز د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغان د هېواد په داخل او له هېواد څخه بهر په بېلابېلو روغتونونو کې په په دندو او تخصصي زده کړو بوخت دي.

سپیـــن غر د لوړو زده کړو مؤسسه(ننگرهـار) د عمومي طب پوهنځي د محصلینـــو د معیاري روزنې او عملي کار لپاره سپین غر ومند پنځوس بستـریز معالجـــوي روغتون لري، چې محصلينو ته د عملي زده کړو ترڅنگ د هېـــوادوالو لپاره با کيفيتـــه روغتیايي خدمات وړاندې کوي.

عمومي طب پوهنځی د خپلو محصلینـــو د علمـــي کچې د لاپیاوړتیا او لوړولو لپاره په تجربوي موادو او وسايلو مجهز لابراتـوارونه، په انټرنيټـي اسانتیـاو برابر کتابتــون، کمپيوټرليب او په عصري ټکنالـوژۍ سنبالې تدریســـي خونې لري، همدارنگـه فعال څېړنيز مرکز هم لري، چې د سیمې په کچه استادان او محصلين په کـــې څېړنې کوي.
عمومي طب پوهنځی خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره پينځه کلن ستراتېژيک پلان لري، چې په منظم ډول تطبيق کيږي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځي د معالجـــوي طب ډيپـارټمنټ ټولې چارې د مسلکـــــي او باتجربـــه کاري ټيـم له لورې، د لوړو زده کـړو وزارت او سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې(ننگرهار) د قوانینو مقرراتو، لوایحو او پالِسیـــو په رڼا کې، پر مخ وړل کیږي.

سپين غر د لوړو زده کـــړو مؤسســـې عمومي طب پوهنځی غواړي، چې د عمومي طب په برخـه کـــې د باکیفیته تدریس، زده کړه ایزو اسانتیاو او څېړنو له لارې په ملي او سیمه ایزه کچه غوره پوهنځـــی وپېژندل شي.

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځی د معیاري تحصيلي نصاب، تدريسي روغتـــون، مجهزو لاراتوارونو، څېړنيز مرکز او باکيفيتـــه تدريس لـه لارې د باتجربه او مسلکي استادانـــو پر مټ ټولنې ته داسـي فارغـــان وړاندي کوي، چې د اړوند سکتور اړتيـــاوې پوره کړای شي.

# د معالجوي طب ډيپارټمنټ لرليد، ماموريت او اهداف



## لرليد

د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډيپارټمنت غواړي، چې د معالجوي طب په برخه کې د باکيفيته تدريس، زده کړيزو اسانتياو او څېړنو له لارې د غوره ډيپارټمنټ په توګه وپېژندل شي.

## ماموريت

د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډيپارټمنټ د معياري تحصيلي نصاب، تدريسي روغتون، مجهزو لابراتوارونو ، څېړنيز مرکز او باکيفيته تدريس له لارې، د باتجربه او مسلکي استادانو پرمټ، ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کوي چې د عامي روغتيا سکتور اړتياوې پوره کړای شي.

## اهداف

- د معالجې په برخه کې د محصلينو علمي برنامو او څېړنيزو فعاليتونو پراختيا.
- د محصلينو د معياري تدريس لپاره د اسانتياو رامنځته کول، ساتنه او پراختيا.
- د ډيپارټمنټ د تحصيلي نصاب تطبيق، څارنه او ارزونه.
- د محصلينو د لابراتواري او روغتوني عملي کارونو لپاره د اسانتياو برابرول، ساتنه او پراختيا.
- د ډيپارټمنټ اړوند دکيفيت لوړونې معيارونو تطبيق.
- د ډيپارټمنټ اړوند کارکونکو، استادانو او محصلينو د ظرفيت لوړونې برنامو ايجاد، ساتنه او پراختيا.
- په اسلامي روحيه، طبي اخلاقو او ملي ارزښتونو ته ژمن علمي کادرونو روزنه.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ بايد د ناروغۍ د تشخيص لپاره د معايناتو د توصيې او تحليل وړتيا ترڅنګ د عملي درملنې وړتيا ولري.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ بايد د روغتيايي سېستم د شته ستونزو د تحليل او د هغوی د حل وړتيا ولري.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ بايد په طبابت کې له استعمالېدونکې عصري ټکنالوژۍ سره اشنا او د هغې د مؤثر استعمال وړتيا ولري.

**د طبي لوړو زده کړو معياري اداره**

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**



## اسانتياوې